# د يادونو مقبرو کښې

## (د ژبې او ادب خدمت)

**۱۰** سعد الله جان برق

لکه څنګه چې زما په نزد په ژوند کښې د کاميابۍ کنجي دا ده چې "جان پري" ته خانه وئيل ضروري دي نو دغسې نن زۀ دا خبره هم په ورومبي ځل کوم ځکه چې ما دا اراده کړې ده چې په دروغو کښې مې ټول عمر تېر کړو خو په دې "حالنامه" کښې به سوچه رښتيا وايم. خبر د سوچه رښتياؤ دا ټکے هم دروغ دے. سوچه رښتيا هيڅوک هم نۀ شي وئيلے ځۀ نا څۀ ملاوټ به پکښې خامخا وي ځکه چې په ژوند کښې مونږ داسې ډېر فضول ناروا بلکې پليت کارونه کړي وي چې وئيل خو ئې پرېږده دوباره يادول ئې هم ګران وي نو داسې خبرې څوک کولے شي او د هر چا په ژوند کښې داسې ناګفته، ناروا او ناقابل شنيد واقعات او لمحې خامخا راغلې وي چې هغه ئې د ځان نه هم پټول غواړي.

نو ځکه سوچه رښتيا يا ټول رښتيا خو نۀ شم وئيلے خو تر ډېره حده به کوشش کوم چې د رښتياؤ وئيلو کوشش وکړم کۀ هر څو پرې شرمندګي هم محسوسوم ځکه چې کله مونږ د نورو خلقو پرده اخلو نو پکار ده چې په خپله هم د ځان نه ټولې پردې لرې کړو.

نو د دې رښتياؤ اوله شروع زۀ د دې نه کوم چې ما په ټول عمر کښې نۀ خو چرته د ادب خدمت کړے دے، نۀ د ژبې، نۀ د قام او نۀ څۀ داسې د بلې اعلي درجې د نظريې د لاندې مې څۀ کړي دي هر څۀ مې صرف ځان دپاره کړي دي اول خو د دوؤ پېسو ګټلو دپاره يا د نوم کولو دپاره او يا د عالم رواج دپاره. اوس دا جدا خبره ده چې کۀ زما د لاسه چا انسان، چا پښتون يا ژبې او ادب ته څۀ فائده رسېدلې وي نو دا د هغوي خپل نصيب ؤ. زما پکښې هيڅ ټُوره شامله نۀ ده. داسې وګڼئ لکه چې يو سړے چرته يو ښار يا کلي يا ملک ته د خرڅ دپاره څۀ شے يوسي نو غرض ئې هم خپله ګټه وي خو کۀ د هغۀ ځائے يا ښار يا کلی خلقو ته ترې هم څۀ فائده يا اسانتيا حاصله شي نو دا د هغوي قسمت دے. ما هم چنې، کچالان، سبزي وغېره خرڅ کړي دي اول مقصد بلکې واحد مقصد مې ځان له سېر اوړۀ ګټل وو، هن دا فائده به هغه خلقو ته رسېدلې وي چې بغېر تکليفه کور ته نزدې او چرته ورپسې د لرې تلو به ورته د ضرورت شے په اسانه ملاؤ شوے وي خو په دې کښې زما څۀ ټُوره شوه او يا زۀ دې پرې ولې برېت تاؤ کړم چې ما دغه چابړے صرف د کلي د خلقو د خدمت دپاره را پسر کړے دے. د خلقو د غمه راله خوب نۀ راتلو او ډېره لويه ټُوره مې کړې ده او تاسو نه څۀ ويره ده دا

نور اکثر خلق هم دغه کوي چې دارو خپل خرڅوي او احسان په کلي کوي.

او بیا خاص طور سره کوم خلق خو چې سرکاري ادارو کښې وي نو زیات نه زیات دوه ځلور به پکښې مخلصان وي ګني نور ټول اجرتیان وي.

څۀ موده خو زۀ په دې خبره نۀ پوهېدم چې اخر په داسې سرکاري ادارو کښې داسې صحیح او چاڼ شوي نا اهله ولې راغونډ شي خو بیا ډېره موده پس راته دا راز بلکې د حکومت پاکستان د ټاپ سرکاري راز معلوم شو چې دا هر څۀ هم د حکومت په یوه منصوبه کېږي. د ننګ او شرمه او دنیا ته د ښودلو دپاره داسې ادارې جوړول خو د حکومت مجبوري وي ځکه چې په سترګو کښې اولس ته هم څۀ خاورې اچول غواړي نو ادارې جوړې کړي، پېسې هم ورکوي خو دا خیال خاص طور سره ساتلے شي چې څوک واقعي قابل بنده په دغه ادارو کښې وررننه نۀ وځي. ځکه چې هغه خو بیا کار هم کوي او نور به هم ځان سره قابل کسان یو ځائے کوي او داسې به د هغه اولس ښېګړه وشي او دا د حکومت په نظر کښې یوه ډېره خطرناکه خبره وي. ډاکټران او دوا سازې ادارې کۀ نن مرضونه ختم کړي نو څۀ به خوري.

نو ابتداء د انتهائي چاڼ شوي نا اهلو نه وکړي هغه نا اهل بیا ځان پسې نور نا اهل رادننه کوي او داسې دغه ادارې د نا اهلو د پالنې روزنې مرکزونه او د څۀ صحیح کار نۀ کولو کارخانې شي. پېسې راځي او خیال ساتي چې "څۀ د کار" کار پرې هر ګز ونۀ شي. اول خو په داسې ادارو کښې اهل او قابل خلق ورننوتے نۀ شي بلکې ننوتو ته پرېښودے نۀ شي ځکه چې کۀ داسې بنده راشي او په اداره کښې د "اهل توب" خطرناک جراثیم خوارۀ کړي نو دا خو بیا د ټولو نا اهلو مستقبل په خطره کښې پرېوتے شي نو ډېر په احتیاط چاڼ بین او کوشش باندې هم د ځان په شانې دانې راجمع کوي او داسې دغه ټولې ادارې نور علی نور شي.

زۀ د یوې مشهورې ادارې د یو پخواني اجلاس کارروائي تاسو ته وړاندې کوم. دا د ابتدئي دور واقعه ده:

ډائرېکټر: ما په جرمني ، فرانس او برطانیه کښې دا خبره معلومه کړه چې احمد شاه ابدالي شاعر هم وۀ.

۱- ښۀ- احمد شاه ابدالي شاعر هم وۀ؟

۲- لکه مولانا صاحب مطلب دا شو چې احمد شاه ابدالي شاعر هم وۀ.

۳- چې ډائرېکټر صېب فرمائي نو یقیناً احمد شاه ابدالي شاعر هم وۀ.

ډائرېکټر: او ډېر ښۀ شاعر وۀ.

۱- ښۀ احمد شاه ابدالي ښۀ شاعر وۀ.

۲- او کۀ نۀ د مولانا صاحب مطلب دا دے چې احمد شاه ابدالي ښۀ شاعر وۀ.

ډائرېکټر: ښۀ شاعر وۀ خو رواني پکښې نۀ وه.

۱-بالکل بې ساختګي هم پکښې نۀ وه.

۲-بلاغتګي هم پکښې نۀ وه.

۳-او فصاحتګي هم پکښې نۀ وه.

دا خو د ابتدائي زماني یو اجلاس وۀ. اوس د تازه ترینې زمانې د یو اجلاس روداد:

ډائرېکټر یا ډائرېکټره: زۀ یو ډېر علمي مطلبي تحقیقي، ادبي، لساني او تاریخي پراجېکټ شروع کول غواړم، ځکه چې حکومت کوم فنډ راکړے دے، هغه به ځائے ته رسول غواړې.

۱- ستاسو په خیال کښې ځنګه پراجېکټ پکار دے.

۲-او کنه مونږ خو تقریباً د پښتو ادب تاریخ، ژبې او ثقافت یو اړخ هم نۀ دے پرېښودلے.

۳- بالکل

ډائرېکټر: زما په ذهن کښې مونږ له په دې پراجېکټ کار کول پکار دي چې د رحمان بابا او خوشحال په شاعرۍ کښې الف چا زیات استعمال کړے دے.

۱-ډېر اعلي ډېر اعلي

۲-نور هم اعلي

۳-بیا بیا اعلي

ډائرېکټر: نو بس ډاکټر پروفېسر پوهاند نور ملوک نوک صېب به دا تحقیق شروع کړي.

۱-ماسره هم ډېر مواد دي په دې لړ کښې.

۲-ما خو په دې موضوع کار هم کړے.

ډائرېکټر: نۀ کنه تاسو د دې نه وړاندې په دوو دوو پراجېکټونو کار کړے، دا ځل د نور ملوک نوک وار دے.

۱-ښۀ جي خو راتلونکے پراجېکټ به زما وي ځکه چې کور مې نیمګړے پاتې دے.

۲-او ورپسې به زما وار وي.

ډائرېکټر: ټیک ده خو په دې کښې به هم تاسو نور ملوک نوک سره لاس کوئ.

۱-زۀ به پرې نظرثاني وکړم.

۲-نۀ نظر ثاني به زما وي.

۱-تۀ به پروف ګورې.

۲-ولې لکه تۀ به درې لکه اخلې او زۀ به په یو لک ګوزاره کوم.

ډائرېکټر: تاسو چپ شئ ما فېصله کړې ده، په دې سلسله کښې:

۱- زما یو عرض دے.

ډائرېکټر: څۀ؟

۱-ما باندې پکښې د انګلېنډ دوره وکړئ.

۲-زۀ هم فرانس ته تلل غواړم.

۳-او زۀ جرمني ته صرف دوه ځل تلے یم.

ډائرېکټر: هیڅ خبره نۀ ده تاسو به د خوښې ملکونو ته لاړ شئ او زۀ به خبر دے په امریکه کښې ریسرچ په خپله وکړم.

۱-ډېر ښۀ ډېر اعلي

۲-زما یوې خبرې ته خیال دے، دا ټول کارونه خو به وشي خو فنډ ډېر دے او تر جون پورې خلاصول غواړي. کۀ مو خوښه وي نو یو بېن الاقوامي سیمینار به هم په پې سي کښې وکړو.

۱-بالکل

۲-یقیناً

۳-بېشکه

هر څۀ وشي د دې سیمینارونه وغېره فنډ خپل خپل مقام ته ورسي خو اخره کښې پته ولګي چې د کار به څۀ چل کېږي چا هم نۀ دي شمېرلي چې د رحمان بابا په شاعرۍ کښې "الفونه" څومره دي. هلته جون په سر راروان دے، پراجېکټ پوره کول غواړي، نو فېصله وشي چې چا شمېرلي دي خو دوه زره درې سوه ځلور ځلوېښت الفونه به رحمان بابا پسې واچوو او دا فېصله هم وشي چې "الفونو" سره دې د "کم و بېش" لکۍ وتړلې شي.

بهر حال زما د ټول تحقیق دا نچوړ دے چې داسې ادارې حکومت د څۀ دپاره جوړوي هغه

همېشه پوره کېږي، چرته په غلطۍ ترې نه هم نهٔ خو

څوک څو "آوټ سائيډر" راتلے شي او نهٔ ترې نه د کار

څهٔ کار کېږي.